مهرباني او نرمي په هېڅ شي کې نه وي، مګر دا چې هغه ته وزن (عزت) ورکوي، او له هېڅ شي څخه نه لرې کيږي مګر دا چې هغه شی بدرنګوي

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مبرمن عائشې رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "مهرباني او نرمي په هېڅ شي کې نه وي، مګر دا چې هغه ته وزن (عزت) ورکوي، او له هېڅ شي څخه نه لرې کيږي مګر دا چې هغه شی بدرنګوي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په وينا او عمل کې مهرباني، نرمي، او مهلت ورکول، چارې ښايسته کوي، بشپړتيا او ښکلا وربخښي، او نږدې ده چې خاوند يې خپله اړتيا پوره کړي. د مهربانۍ نشتوالی شيان عيبجنوي او بدرنګوي يې، او خاوند يې لدې منع کوي چې خپل حاجت پوره کړي، او که چېرته يې پوره هم کړي نو په ډېرې سختۍ سره به وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5796